مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۲۰

# چې دا لا ښکه زندهګي ده راپه غاړه خدایه!؟

## تازه نظم

د ساه ساتلو بنده ګي ده راپه غاړه خدایه!
چې دا لا ښکه زنده ګي راپه غاړه خدایه!؟

ګېډې نـهرې دي سـرونـه سرپـنـاه نـه لـري!
بېغیر لـه تـا خـدایـه! لـه هیچا تمـنـا نـه لـري

خلک به څه وایي؛ ددوئ نو ګنې خدای نشته!؟
چې د خاپوړو په وطن کې ورتـه ځای نشته!

د موسیٰ ورکـه قبیلـه یوو رهـنـمـا نـه لـرو!
خو موږ نهـر ګرځو "من "نه لرو "سلوا " نه لرو!

ځمکه له پښو تښتي اسمان هم ځان ناګار اچوي
خدایزده پر موږ زموږ د کوم جرم ازار اچوي!؟

زموږ یوه لوېشت خاوره هم بې له سجدو نشته
چې دلـتـه ولـې پـر چـا زړه د دردېدو نشـتـه !؟

منم مالداره! دوئ تـه لاره بـې لـه صبـره نشـتـه!
خو تـا تـه هم څه سـرمـایـه بغیر له قبره نشـتـه!

که چا هم یو مجبور انسان لـه دې ذلـتـه وویست!
ځان یې بـاوره! لـه صـراطه تـر جـنـتـه وویست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ